# بسم الله الرحمن الرحيم

# د ایران لاریونونه بریالي کېدی شي؟

په ایران کې له یوې میاشتې راهیسې لاریونونه روان دي؛ دغو لاریونونو د مهسا امیني له مړینې وروسته زور واخیست؛ نوموړې د ایران اخلاقي پولیسو د اخلاقي اصولو تر پښو لاندې کولو په تور نیولې وه. د ایران آخوندي رژیم ډېر وخت له دومره پراخو لاریونونو سره نه و مخ شوی. دا رژیم د 1979 کال له انقلاب وروسته واک ته ورسېد؛ خو د څو لسیزو فساد، بېکفایتی او ناسم اقتصادي مدیریت په سبب له بل هر وخت څخه کمزوری شوی. د ایران د حاکم رژیم د رانسکورېدو احتمال نه لیدل کېږي؛ خو شرایطو ته په کتو د دې احتمال هم نشته چې په همدې حالت دې پاتې شي.

شاه په 1979 کې له واکه لرې کړای شو؛ د ایران آخوندي رژیم چې د امریکا ضد و د اسلامي انقلاب له لارې واک ته ورسېد. د آیت الله روح الله خمیني لخوا ټول پر یوه فکر راټول شول او هیله یې دا وه چې ایران به په سیمهایز ځواک بدلوي. سره له دې چې انقلاب ته اسلامي ویل کیږي، خو د دغه انقلاب کوونکې ډېری ډلې نا اسلامي وې چې کمونېستان، اکاډمیک کسان، کیڼ اړخي، اتحادیې او نور ډېر داسې کسان پکې وو چې موخه یې یو اسلامي انقلاب نه و. کله چې خمیني واک ته ورسید، ټوله هڅه یې دا وه چې څنګه نظام وپایي او د دې لپاره یې ټولو هغو کسانو ته شا کړه چې واک ته په رسېدو کې یې مرسته ورسره وکړه. خمیني ډېر بدګومانه و، پر پوځ یې باور نه درلود، نو د اسلامي انقلاب ساتونکی ځواک (سپاه پاسداران انقلاب اسلامي) یې رامنځته کړ.

په واک کې پاتې کېدو لپاره آخوندي رژیم ډېر شمېر ارګانونه او دولتي بنسټونه رامنځته کړل. داسې سیاسي جوړښت یې رامنځته کړ چې وکولی شي ایران او سیاسي پرېکړې یې په خپل لاس کې ولري. د ایران رژیم په سر کې، تر ټولو ځواکمن کس، «معظم رهبر» دی، تر اوسه دوو کسانو دغه مقام خپل کړی. لومړی د اسلامي جمهوریت بنسټګر، آیت الله خمیني، له ۱۹۷۹ څخه تر ۱۹۸۹ پورې. وروسته د هغه وارث چې دوې دورې ولسمشر هم وو، آیت الله علی خامنهیی واک ته ورسېد، درې لیسزې کیږي چې دی د ایران رهبر دی. دا مقام د خلکو په رایو نه، بلکې د «مجلس خبرګان رهبری» لخوا ټاکل کېږي؛ دا د آخوندانو یوه ډله ده. رهبر پراخ واکونه لري او د دغه هېواد د مهمو بنسټونو؛ لکه صدا و سیما، ګډ ځواک، سپاه پاسداران او شورای نګهبان مشران ټاکي.

آخوندي رژیم له دوی څخه مخکې پهلوي رژیم په څېر متمرکز سیستم رامنځته کړی، ځکه چې د ایران ۵۰ - ۶۰ سلنه نفوس فارسیان دي. په ایران کې ډېر شمېر قومونه اوسېږي، نو آخوندي رژیم د تېر رژیم په څېر امنیت ته پام کوي؛ ځکه دوی د خپل رژیم د پایښت تر څنګ غواړي پر هغو لږکیو قومونو چې کېدای شي رژیم ته ګواښ وي، هم حکومت وکړي. د ایران په شمال لوېدیځ کې کرد او آذري قومونه ژوند کوي چې ځانونه فارسیان نه بولي. آذریان په اردبیل ولایت کې بیلتون غوښتونکی خوځښت لري او غواړي چې له آذربایجان سره یوځای شي. د کردی مهسا امیني پر مرګ په دغه ولایت کې د نظام پر وړاندې ستر لاریونونه ترسره شول. کردان او آذریان پر رژیم باور نه لري، ځکه چې له ډېر وخت راهیسې له دوی سره بد چلند کوي. د ایران په سوېل لوېدیځ کې خوزستان پروت دی، په دغه ستراتېژیکه سیمه کې د دغه هېواد د انرژی

سرچینې هم دي. په خوزستان کې له پښوا عرب اوسېږي او دغې سیمې ته اهواز وايي، خو رژیم د دې لپاره چې دا نوم فارسي وي، خوزستان يې کړ. آخوندي رژیم د خوزستان د انرژۍ زېرمې وړي، خو د سیمې خلک بې وزله او بې روزګاره دي. په ختيځ کې پر افغان پوله او سیستان-بلوچستان سیمه کې له پښوا ستونزې وې؛ د دغو سیمو ډېری وګړي سني مذهبه دي او د خلکو د بې وزلۍ په سبب تل بې ثباته سیمه وه. رژیم د دغې سیمې خلکو ته د شک په سترګه ګوري. ایران ستر هېواد دی، د اوسیدو وړ دښتې او غرونه لري چې ګردچاپېر يې د فارسیانو کلي او ښارونه دي. دا سیمې بیا لږکیو چاپېر کړې او په ګډه فارسي نفوس جوړوي.

آخوندي رژیم په خپل ځلور لسیزې حکومت کې له دا ډول ډېرو خوځښتونو او لاریونونو سره مخ شوی. روان خوځښت يې یوازې اوسنۍ بڼه ده. د تهران پوهنتون؛ ایراني ټولنپوه محمد فاضلي وايي: دا لاریونونه د وروستیو پېښو په سبب نه، بلکې په ایران کې د تېرو ځلورو لسیزو خرابې حکومتولۍ زېږنده دي. فاضلي زیاتوي چې له تېرو ځلور لسیزو راهیسې په ایران کې ډېرې داسې ناحل شوې ستونزې شته چې تر اوسه يې حکومت د حل هڅه نه ده کړې. هغه وویل: «کله چې ولسمشر، رییسي وايي چې د مهسا امیني د مرګ په اړه به څېړنه وکړي، خلک باور نه شي پرې کولی؛ ځکه چې په تېر کې دې ته ورته پېښې نا حل شوې پرېښودل شوې.» د دې ترڅنګ، له ځلورو لسیزو وروسته؛ لوړ انفلاسیون، صفر ته نېږدې اقتصادي ودې، د اداري سیستم ځوړ او نورو فکتورونو د ایراني رژیم پر وړاندې د خلکو غوسه راپارولې او ډېری ایرانیان اوس د ایران د ناکام آخوندي حکومت پر وړاندې له غږ پورته کولو او لاریون څخه نه وېرېږي.

څه چې ډېری ایرانیان يې د رژیم پر وړاندې راپورته کړي؛ دا دي چې له ځلورو لسیزو وروسته يې اقتصاد ویجاړ کړی، خلک يې بې‌وزله کړي او د خلکو د ځېلو لړۍ روانه ده. د ایران GDP یا ناخالص داخلي تولیدات ۷۰ سلنه کم شوي؛ د ایران د GDP کچه په ۲۰۱۲م کال کې ۵۹۹ میلیارده ډالر وه خو اوس ۱۹۱ میلیارده ډالرو ته را ښکته شوې! نن ورځ په ایران کې د ژوند سټنډرډونه په تېره یوه پېړۍ کې تر ټولو ټیټې کچې ته رسېدلي. بیې دومره لوړې دي چې د ډېرو ایرانیانو لپاره اړین توکي؛ لکه خواړه او درمل د لاسرسي وړ نه دي.

له تاریخي لحاظه په ایران کې بدلون له دوو لارو راغلی. یا کوم بهرني ځواک په ایران کې پر یوه ډله یرغل یا يې ملاتړ کړی؛ لکه روسيې او بریتانیې چې د لومړۍ او دویمې نړیوالو جګړو په پیل کې پر ایران برید وکړ چې د جګړې لپاره د دغه هېواد د انرژۍ له زېرمو ګټه واخیستلی شي. په ۱۹۷۹ کې فارسیان، لږکي او د ټولنې بېلابېل قشرونه د شاه د ګوښه کولو لپاره سره راټول شول. نن ورځ لږکي د رژیم پرځولو لپاره د فارسیانو پراخ ملاتړ ته اړتیا لري. مخالف خوځښت اوس پراخ لاریون پر مخ بیايي خو خواره دي؛ ځکه یو رهبر نه لري او کلیوالي سیمې يې نه دي بسیج کړي چې هلته د اخوندانو د ملاتړ بنسټ دی.

ایران په تدریج سره له تئوکراتیک دولته چې آخوندان يې اداره کوي، په داسې دولت بدلېږي چې د سپاه پاسداران لخوا اداره کېږي؛ دا هغه پوځ دی چې ځان ته د ۱۹۷۹ کال انقلاب ساتونکي وايي. آخوندانو خپل اعتبار له لاسه ورکړی دی، د خامنه‌یي له مرګ وروسته، لرې ده چې سپاه پاسداران دې په واک کې د پاتې کېدو لپاره «رهبر معظم» ته اړتیا ولري؛ ممکن یو سمبولیک رهبر وټاکي خو واکونه به يې محدود وي. د ایران راتلونکی ښايي یو زورواکی او مطلق دولت وي چې رهبري يې د پوځ یو رهبر کوي. لکه د شلمې پېړۍ په لومړیو کې چې رضا خان په ۱۹۲۱ کال کې لومړی وزیر شو، په ۱۹۲۵ کې يې احمدشاه له واکه لرې او پهلوي سلسله يې رامنځته کړه.

د حزب التحرير مركزي مطبوعاتي دفتر ته

عدنان خان

۱۴۴۴ د ربيع الاول ۲۰ مه